مطبوعاتي اعلامیه
3/12/2022

# په افغانستان کې د طبي علومو په انستیټیوټونو کې د ښځو او نجونو د زده کړو په دوام د بندیز په اړه ګډه رسنیزه اعلامیه!

له ټولنیزو، اقتصادي، سـیاسي او فرهنګي برخو څخه د ښـځو د پوره محوه کولو او حذفولو لپاره د طالبانو د تبعیضي او منظمو یا سیستماتیک سیاستونو په دوام، د دغې ډلې مشر په نوي ظالمانه فرمان کې طبي/روغتیایي برخو کې د لوړو او نیمه لوړو زده کړو بنسټونو ته امر کړی چې وروسته له دې ښځې دا زده کړې نه شي کولی.

دغه عمل چې په هدفمند ډول د ښـځو او نجونو د بشري حقونو او ازادیو په ځپلو باندې د طالبانو د ښـکاره ټینګار نښـه ده، د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض له منځه وړلو په نړیوال کنوانسیون کې له موجوده احکامو څخه ښکاره سرغړونه او د بشریت ضد جنایت ښکاره بیلګه ګڼل کیږي او د طالبانو دا اقدام له اسلامي، افغاني او ټولو انساني اصولو سره په ټکر کې دی.

په داسـې حالت کې د طبي زده کړو په انسـتیټوټونو کې د نجونو او ښځو په زده کړو بندیز چې په هیواد کې د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې هم د دوی پرمخ بندې شوې دي، د جنسیتي تبعیض او ظلم د زیاتوالی یو بل ګام دی چې د افغانستان اوس او راتلوونکې ته ورانوونکې پایلې لرلی شي، په ځانګړې ډول روغتیایي خدماتو ته د ښځو لاسرسي له تېر څخه ډېر لنډوي. له یوې خوا طالبان نارینه ډاکټرانو ته د ښځینه وو د معاینې اجازه نه ورکوي او بل لوري ته همدا اوس د روغتیایي خدمتونو مرکزونه د ښځینه کارکوونکو له سخت کمښت سره مخ دي. په همدې اسـاس به د روغتیایي/طبي زده کړو په موسسـو کې د ښـځو او نجونو په زده کړو بندیز په راتلوونکو کلونو کې روغتیایي خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي په برخه کې ډېرې ننګوني رامنځته کړي.
رواداري او مصور د طالبانو د دغه اقدام په غندلو سره، له حاکمو چارواکو څخه غواړي چې د بشري حقونو نړیوالو سندونو او تړونونو په رعایت، د افغانستان د قانوني مکلفیتونو په پام کې نیولو سره ژر تر ژره د نن ورځې په پریکړه له سره غور وکړي او د دغه هیواد د ښځو او نجونو د تعلیم حق ته د درناوي لپاره دې د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې پرانیزي.

رواداري او مصور همداراز په نړیوالو فورمونو کې د افغان ښځو د ملاتړ او حق غوښتنې په برخه کې پر خپل کلک هوډ ټینګار کوي او د بشري حقونو له سـازمانونو، رسـنیو او د بشري حقونو له مدافعینو هم غواړي چې له ټولو شته قانوني وسایلو او امکاناتو څخه په استفادې د طالبانو د ظالمو او ځپوونکو سیاستونو درولو هڅې وکړي.

پای